# افغانستان: اګست / سپتمبر ۲۰۱۱

**Author:** IWPR
Reporters

د آی ډبلیو پي آر رپوټ څرګنده کړه چې د هرات افسران د ناواده شوو نارینه او ښځو له حقونو څخه سرغړونه کوي.

**د هرات پولیس وايي، د آی ډبلیو پي آر یو رپوټ، چې د جولای په تېره میاشت کې خپور شوی و، [د پولیسو] افسران یې په عام محضر کې د ناواده شوو نارینه او ښځینه جوړو پر ځورولو تورن کړي وو. ددې ترهې او ډار اچولو له امله د خلکو زیات شکایتونه رامنځته شوي وو.**

**<u>د هراتي نارینه او ښځینه جوړې له طالب ډوله ځورونو څخه شکایت کوي،</u>تر سرلیک لاندې رپوټ چې د جولایپه ۲۹ خپور شوی و، داسې ادعاګانې غبرګې کړې وې، چې جوړه ګرځېدونکي ځوانان او پېغلې د پولیسو له خوا نیول کیږي او سزا ورکول کیږي.**

**اوس د هرات چارواکي او ځایي مدني سازمانونه وايي، [ددې رپوټ له خپرېدو] ورسته یې ددې ناوړه کړنو په اړه څه نه دي اوریدلي.**

**د هرات ولایت د پولیسو ویاند، نورخان نیکزاد وویل: «په تېرو دوو میاشتو کې د پولیسو له خوا د نوموړې ځورونې کوم عمل سرته نه دی رسیدلی.»**

**له هغه وروسته چې د آی ډبلیو پي آر یو خبریال د نوموړي رپوټ او د هغه د خپرېدو په اړه د هرات د پولیسو له مشر، سیدآقا ثاقب سره مرکه کړې، په اساسي قانون کې د کښل شوو شخصي ازادیو په اړه د پولیسو ښوونې او روزنې ته ډېر زیات پام اوښتی دی.**

د افغانستان سترې محکمې څرګنده کړې، په داسې حال کې چې د اسلامي قوانینو له مخې په خلوت کې، [د دریم شخص له وجود پرته]، د نامحرم نارینه او ښځې ناسته ولاړه ګناه بلل شوې، خو په دې اړه کوم قانوني محدودیت نشي لګول کېدای.

**نیکزاد وویل، اوس د بشري حقونو په اړه خبرتیا، انساني کرامت ته پر درناوي او د خلکو ډاډ ترلاسه کولو ته زیات پام اړول شوی دی.**

**هغه وویل: «له نېکه مرغه، له یوې مودې را په دې خوا مو داسې پیښې په سترګو نه دي لیدلي.» هغه زیاته کړه، یو شمېر هغو پولیسو ته سزا ورکړ شوې چې جوړه ځوانان او نجونې یې ډارولي او ترهولي دي.**

**د بشري حقونو په خپلواک کمیسون کې د پولیسو د سرغړاوی د څارنې د څانګې مشرې، شریفې شهاب وویل، د آی ډبلیو پي آر رپوټ د ستونزې په هوار کې د پام وړ مرسته کړې ده.**

**هغې وویل: «له تېرو دوو میاشتو راهیسې مونږ ته په دې اړه شکایتونه رارسیدلي نه دي. دا ددې څرګندونه کوي چې نوموړی چلن لږ شوی یا له منځه تللی دی.»**

**هغې زیاته کړه: «د آی ډبلیو پي آر د رپوټ خپراوي او د بشري حقونو خپلواک کمیسون پرله پسې څارنې مثبت اغېز کړی دی.»**

**هغې وویل شخصا يې د پولیسو د مرکز په اوونیزو اداري غونډو کې ګډون کړی، چې د پولیسو د ټولو اړوندو حوزو قوماندانو هم پکې حضور درلود.**

**هغې وویل: «ما د هرات د امنیې قوماندان لیدلی، چې ځو، څو ځلې يې [د شخصي ازادیو] په اړه خبرې کړي دي. دا څرګندوي چې رسنیو [د پولیسو په چال چلن کې ښه والی راوستی دی.]»**

**په کابل کې د آبادۍ د اوونیزې مسؤول چلوونکي، خان محمد دانشجو وویل، د کورنیو چارو د وزارت ویاند، محمد صدیق صدیقي هغه ته تلیفون وکړ او په ورځپاڼه کې يې د آی ډبلیو پي آر د رپوټ د بیا خپرېدو له امله مبارکي ورکړه.**

**دانشجو وویل: «زه سل په سلو کې ډاډمن یم، چې په هرات ولایت کې [د شخصي ازادیو په اړه د پولیسو په چال چلن کې] د بدلون لامل د آی ډبلیو پي آر د رپوټ خپرېدل دي.»**

**Topic:** Police

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%A7%DA%AB%D8%B3%D8%AA-%D8%B3%D9%BE%D8%AA%D9%85%D8%A8%D8%B1-%DB%B2%DB%B0%DB%B1%DB%B1